PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویي او فساد هڅې نه کوي. او آخرنۍ برې د پرهیزګارانو په برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به يې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدی، سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاری)

شهادت خلورم کال، ۴۰ مه ګڼه، پرله پسې ۱۹۱ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د سلواغی ۴ مه د۱۴۳۴ هـ ق د ربیع الاول ۱۱ مه د۲۰۱۳ م د جنوری ۲۳ مه

PROPERTY OF ACKU

رئیس جمهور هیئتی را برای بررسی گزارش ملل متحد توظیف کرد

نگهداری زندانیان مساله مربوط به حاکمیت افغانستان است واز ایالات متحده میخواهم تا همه زندانیان افغان را به دولت افغانستان بسپارد (کرزی)

در صورت صحت اتهامات وارده، این هیات موظف است که عاملان آن را مشخص کند و تا دو هفته آینده، یافته های خود را به رئیس جمهور گزارش دهد

کابل، رسانه ها:
حامد کرزی، رئیس جمهوری افغانستان حکم بررسی و حقیقت‌یابی در مورد بدرفتاری با زندانیان در زندان‌های این کشور را داده است.
هفته گذشته سازمان ملل متحد در گزارشی از شکنجه گسترده در زندانهای افغانستان خبر داد.
در گزارش سازمان ملل متحد آمده است که، بیشتر از نیمي از ۶۳۵ زندانی که در این گزارش با آنها صحبت شده، گفته اند که یا شکنجه شده اند یا با آنها بدرفتاری شده است.
در خبرنامه ریاست جمهوری آمده که رئیس جمهور کرزی، هیاتی را موظف کرده است تا چگونگی شکنجه و بدرفتاری، تهدید به کشتن

بقیه در صفحه ۴

کرزي ۲۰ نورو کسانو ته د اعدام غوښتنه منظور کړه

دغو شلو کسانو کې د سرې تښتونې، وژنو، مسلحانه غلاوو او جنسي تیریو ترسره کوونکي شامل دي په تېرو دوو میاشتو کې دا د اعدام دویمه پرېکړه ده چې د ولسمشر له لوري منظورېږي، خو د بشري حقونو د مدافع ټولنو سخته غصه یې راپارولې.

کابل، تاند:
ولسمشر کرزي د شلو نورو هغو کسانو د اعدام فیصله تایید او توشیح کړ چې په بیلا بیلو جرمونو مجرم پیژندل شوي دي.
په دغو شلو کسانو کې د سرې تښتونې، وژنو، مسلحانه غلاوو او جنسي تیریو تر سره کوونکي شامل دي.
د کابل د څرخي پله د محبس د سرچینو په خبره دغه شل تنه دمګړی دې محبس کې دي.
سرچینې پرون سې شنبه وویل چې یاد کسان د ملک له بیلا بیلو محابسو اوس مرکزي محبس ته راوړل شوي او یو

پاتې ۴ مخ

بریتانیا برای حفظ و مراقبت سرک ها با وزارت فواید عامه کمک کرد

کابل، رسانه ها:
مقام های وزارت فواید عامه افغانستان می گویند که از کمک تازه بریتالیا در راستای تطبیق پالیسی حفظ و مراقبت سرک ها و ارتقای ظرفیت کارمندان این وزارت استفاده خواهد شد.
به گفته این مقام ها پالیسی حفظ و مراقبت سرک ها و شاهراه های کشور به تازه گی از سوی کابینه حکومت افغانستان تصویب شده است.
نجیب الله اوزن وزیر فواید عامه به روز سه شنبه در مراسم امضای تفاهم نامه مساعدت تازه مالی بریتانیا در

بقیه در صفحه ۴

د حیرتانو د بندر له عوایدو نه د شخصي ګټې اخیستنې دوسیه برابره شوه

(لویه خارنوالي)

د حیرتانو عواید د میاشتې ملیونو ډالرو ته رسېږي چې په ۱۳۸۱ او ۱۳۸۲ لمریز کلونو کې ددې بندر لسګونه ملیونه ډالر عواید شخصي جیبونو ته تللي او یا ورنه ګوندي ګټه پورته شوې

کابل، رسنی:
لویه څارنوالي دا تاییدوي چې د حیرتانو د بندر له عوایدو څخه د شخصي ګټې اخیستې دوسیه چمتو شوې او د لا څېړنو لپاره د اداري فساد پرضد د مبارزې ادارې ته لیږدل شویده.
که څه هم د دې ادارې چارواکي په دې برخه کې د کوم شخص نوم نه اخلي خو وایي چې په ۱۳۸۱ او ۱۳۸۲ لمریز کلونو

پاتې ۴ مخ

افغانستان قوي وارث ته ضرورت لري

• تر هغې چې افغانستان کې سیاسي ګوندونه وده ونه کړي، ولسونه او خلک دګوندونو د اشراف او عضویت لاندې راجمع نشي، د خلکو د ارادې قوي او ممثل نظام به نه وي.
• زماني او مقطعي ائتلافونه به عندالضرورت د شخصي منافعو په خاطر جوړېږي او عندالموقع به بیرته له منځه ځي ځکه دلته به د ائتلافونو ترمنځ فکري، عقیدوي او سیاسي تړاو او یووالی نه وي

(مولوی عطاء الله لودین) - دویم مخ

عوامل ناامنی از دیدگاه رئیس جمهور

(اعزامی) - صفحه سوم

په کامې ولسوالی کې دحزب اسلامي یوه ورځنۍ ورکشاپ جوړ شو

عبدالله کامه وال

دمرغومې پردیرشمه دجمعې په ورځ د کامې ولسوالی په نواباد کلي کې دحزب اسلامي دغړو لپاره یوه ورځنۍ ورکشاپ جوړ شو.
یاد ورکشاپ دننګرهارولایت په ادب پروره ولسوالی کامه کې دحزب اسلامي دناظیمیت په ابتکار اوهڅو جوړشو چې موخه یې په یاده ولسوالی کې دحزب اسلامي د تنظیمي کارونو دښه انسجام اوپرمختګ اوهمدارنګه پر شته ستونزو او مشکلاتو هر اړخیزه بحث اوګروپي کار وکړ او هر ګروپ بېلابېلې ستونزې او مشکلات په ګوته کړل چې وروسته دارزوني کمیټي لخوا وارزول شول او د ستونزو د حل پر لارو چارو یی ژوربحث وشو. ...

پاتې ۴ مخ

هر سهار د غم سهار!

عبدالله کامه وال

دشهیدانو بچې په څلور لارو کې دخپلو ښاغلو دموټرو شیشې پاکوي او سپیلنې ورته لوګې کوي چې له بده نظره بچ، او سرونه یې په امن وي، خو دا په پردو امکاناتو مست او مغرور مشران او بیروکراتان کله پر دوی زړونه دردوي! راځئ د شهیدانو، یتیمانو، جهاد او مقاومت په نامه دا سیاسي تجارت نور پرېږدو

ددلوې پر دویمه ددوشنبې پر سهار د کابل ښار یوې زورورې چاودنې ولړزاوه او یو هیبت ناک او ویرونکي اواز ماشومان له خوارہ خوبه را بیدار کړل تورسري او خوانان له هیبته کوڅو ته ته راووتل هر چا له خپل کوره دوتلې وګړي دسر خیر غوښته ډیرې میندو دیوبد اواز داوریدو شیبي شمارلی هره خوا دغم اوترس فضا خپره وه خلکو دخپلو شتوامکاناتو نه په کاراخیستو د پیښې خان خبراو چې دانا کاره او زورورہ چاودنه به چیرته شوي وي اوځومره کورنی به یې بیا دغم په تغر کینولي وي موږ هم دشمشاد تلویزیون ته مخه کړه چې دچاودنې له جزیاتو خبر شو چې د شمشاد تلویزون پر ګیکه دیو عاجل خبر کرښه تیره شوه ...

پاتې دویم مخ

علمای افغان و مصر در کابل روی حقوق زنان بحث می کنند

کابل، رسانه ها:
شماری از علمای افغان و مصری به هدف بحث روی حقوق زنان از نگاه اسلام در کابل گرد هم آمده اند.
این سیمینار در حالی برگزار شده است که یک تعداد از زنان هنوز هم با مشکلات فراوان رو به رو اند.
وزارت زنان افغانستان ابراز امیدواری کرده است که با راه اندازی همچو برنامه ها آگاهی مردم در این کشور در خصوص حقوق زنان افزایش یابد.

بقیه در صفحه ۴

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ایا د میلادالنبي جشن لمانځل د محمد ﷺ د اطاعت نعم البدل کیدلی شي؟!

د افغانستان مسلمان ولس هر کال د ربیع الاول په دولسمه له خپل آخري رسول محمد صلی الله علیه وسلم سره د مینې د څرګندولو او د عقیدت د ګلونو د وړاندې کولو په خاطر د میلادالنبي ورځ لمانځي، علماء، خطیبان، لیکوالان، شاعران او استادان د محمد صلی الله علیه وسلم د سیرت، اخلاق، سخاوت، شجاعت، ایثار، همدردي، صبر، زغم، نظم، تنظیم، خواخوږي او پیرزوینې په اړه په زړه پورې معلومات وړاندې کوي، عام ولسي وګړي په دغو ورځو کې خیراتونه ورکوي او زیات شمېر مسلمانان روژې نیسي او پر محمد صلی الله علیه وسلم درودونه وایي خو د ربیع الاول د میاشتې له تېرېدو وروسته بیا له محمد صلی الله علیه وسلم سره د مینې او عقیدت هغه خلوص او جذبه نه تر سترګو کېږي چې د میلاد النبي په ورځو کې تر سترګو کېده، په داسې حال کې چې له هغه صلی الله علیه وسلم سره مینه او دهغه پر سنتو بشپړ عمل کول پر هر مسلمان د ژوند تر آخرنیو سلګیو پورې فرض او لازمي دی، تر څو پورې چې پخپل ټول ژوند کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع او اطاعت پرځان فرض ونه ګڼل شي او خپل هره کړنه او عبادت دهغه صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق ترسره نه کړی شي نو یواځې یو کال او بل کال د څو ورځو د میلاد النبي د جشن په لمانځلو سره د مسلمانانو هغه مسؤولیت نه ترسره کېږي چې لوی الله ورباندې فرض ګرځولې دی.

الله تعالی پخپل پاک او سپېڅلی کتاب قرآن کریم کې په ډېرو څرګندو او واضحو ټکو کې فرمایلی دي چې: هر چا د محمد صلی الله علیه وسلم اتباع او منـنه وکړه بیشکه د الله جل جلاله اطاعت وکړ او چا چې له هغه صلی الله علیه وسلم نه سر کشي وکړه نو له الله نه یې سر کشي وکړه.

پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې په تاسو کې هېڅا تر هغه ایمان نه دی راوړی تر څو پورې چې زه هغه ته د هغه د مور پلار زامن او له ټولو انسانانو څخه زیات محبوب ونه ګرځم.

یوه ورځ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې زما ټول امت به جنت ته داخلېږي مګر هغه څوک به نه داخلېږي چې انکار وکړي، اصحابو کرامو پوښتنه وکړه چې انکار څه شی دی؟ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه به ضرورت جنت ته داخلېږي او چا چې زما له اطاعت نه سرغړونه وکړه نو بیشکه هغه زما له اطاعت نه انکار وکړ.

ډېر افسوس چې زموږ په وګړو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اطاعت او اتباع جذبه تقریباً مړه او یا هم مړاوې ده، زموږ ټولنه، زموږ بازار، زموږ قضأ، زموږ معاملات، زموږ دفترونه، زموږ سیاست، زموږ ناسته ولاړه، زموږ لباس، زموږ خوراک څښاک، زموږ عبادات، زموږ اخلاق، زموږ سیرت په مجموع کې زموږ ټول ژوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو نه په مخالف سمت کې روان دی. په داسې حال کې چې یو مسلمان تر هغه صحیح مسلمان او مؤمن نه شي کیدلې تر څو پورې چې خپل ټول ژوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق نه وي تېر کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپلو مبارکو لارښوونو کې مسلمانان پخپلو کې د یو بدن غړي ګرځولي دي او په دې خبره یې تأکید کړې چې مسلمان ته ښکنځلی کول فسق او دهغه وژل کفر دی خو متأسفانه په دې هېواد کې نه د غلیظو کنځلو او سپکو سپورو څه کمی شته او نه هم د وژنو او څورونو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول مسلمانان پخپلو کې ورونه ورونه معرفي کړي او ددوی ترمنځ هر ډول عصبیت یې حرام ګرځولې دی مګر دلته د افغانستان وګړي په نسلي ژبني او نورو ګنو تعصبونو کې وربښېږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت، درغلی، خیانت، حسد او کینه پر خپل امت ممنوع او ناروا ګرځولي مګر دلته هر څه په پراخه کچه روان دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه کړی چې حکمرانان او چارواکي باید د خپل ولس خادمان وي خو دلته په افغانستان کې باداران دي، مطلق اکثریت چارواکي د خدمت پر ځای د باداري سلوک کوي او د رعیت پر حقوقو یې ګیډه اچول خپل حق ګڼي. غصب په مطلق ډول حرام او په بیت المال کې خیانت کول په ګیډه کې د جهنم د اور اچولو سره تشبیه کړې خو په دې وطن کې لکونو جریبه دولتي زمکې د حکومتي چارواکو له خوا غصب شوې او بیت المال یې داسې چور او تالان کړې چې هېڅ یې پکې نه دي پرېښي.

محمد صلی الله علیه وسلم ، زنا، لواطت، پر ښځو او پر نورو کمزورو وګړو ظلم او تیری، غلا، ډاکې، درواغ، بې عدالتي او فساد په سختو ټکو غندلي او مرتکبین یې د جهنم د اور او د الله تعالی د لعنت مستحق ګرځولي دي مګر په دې هېواد کې دا هرڅه په ډېر فخر سره ترسره کېږي.

د الله جل جلاله آخري استازی محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو اتباع مخ پر کمېدو او د شیطان پیروي مخ پر زیاتېدو دی، زموږ پر هر کار شیطاني رنګ غالب او نبوي رنګ پیکه او یا بالکل نه تر سترګو کېږي. که زموږ د افغانستان مسلمانانو د محمد صلی الله علیه وسلم له اطاعت او اتباع نه د تېښتې او نه پاملرنې دا حال وي نو ایا یواځې هر کال د ربیع الاول په دولسمه د محمد صلی الله علیه وسلم د میلاد جشن لمانځل به زموږ ګناهونه جبران کړي، نه هېڅکله نه، زموږ بشپړ خلاصون او بري په دې کې نغښتل شوې چې د الله تعالی دین په صحیح معنا ومنو او محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په هره څانګه کې خپل مقتدی او پیشوا وګرځوو.

مولوی عطاء الله "لودین"

افغانستان قوي وارث ته ضرورت لري

افغانستان په روانه تېره لسیزه کې د مصلحتونو په بناء د غیر ګوندي حاکمیت لرونکی هېواد دی چې دې وضعې افغانستان ته په امنیتي او اقتصادي برخو کې زیاته ګټه نده رسولی بلکه مشکلات یې پیدا کړي او د خلکو اعتراضونه یې راپارولي، وایي چې حاکم سیستم باید تغییر وکړي څکه د متناسبې نماینده ګی په اساس نه دی جوړ او هم کار اهل کار ته نه دی سپارل شوې او نور لسګونه اعتراضات، واقعیت دا دی چې تر څو په افغانستان کې سیاسي ګوندونه وده ونه کړي، ولسونه او خلک د ګوندونو د اشراف او عضویت لاندې راجمع نشي دلته به د خلکو د ارادی قوي ممثل حکومت رامنځته نشي چې د خلکو معقولو غوښتنو ته خواب ووایي او د حوادثو په وخت د ځانه دفاع وکړي.

زماني او مقطعي ائتلافونه به عندالضرورت د شخصي منافعو په خاطر جوړېږي او عندالموقع به بیرته له منځه ځي څکه دلته به د ائتلاف ترمنځ فکري، عقیدوي او سیاسي تړاؤ او یووالی نه وي بلکې د خاصو مجبوریتونو او مصلحتونو په بنا به د اتلواله منځته راغلی وي چې د خلکو سیاسي او عقیدوي نماینده ګي به نه کوي.

نو په طبیعي توګه به داسې نظامونه د مملکت د لویو قضایاوو په رابطه او خاصتاً د ناامنی او بې ثباتي د وخیمو حالاتو او تهدیدونو مقابله نشي کولی او د یوې ورځې نه بلې ته به بې ثباتي او ناامني زیاتېږي او مسؤولیت منونکی مرجع به نه وي چې د نابېره حالاتو مقابله وکړي.

د افغانستان فعلي نظام همداسې یو حالت لري څکه دلته یو قوي ګوند حاکم ندی هر څوک د خپل شخصي منفعت په خاطر له دولت سره یوځای شوی چې کله نابېره نازک حالات راځي چارواکي فکر کوي چې زه یې څه کوم زما د ګوند حکومت ندی، افتخارات یې زما د ګوند نه دي چې څه کېږي د مملکت اول شخص پوه شه او کار یې، د مملکت اول شخص هم د کوم قوي ګوند په سر کې قرار نلري چې د خپل ګوند د افرادو په واسطه د مملکت وضعه کنترول کړي، حاکمیت تېنګ او د استقلال نه یې دفاع وکړي چې هېوادوال یې د لسو کلونو په اوږدو کې د ګڼو قضایاوو شاهدان دي.

پدې صورت کې به طبعاً نورو جهتونو ته احتیاج وي که هغه داخلي وي که خارجي نو بیا د نورو خوښه ده چې د کومو شرایطو له مخې له اول شخص سره مرسته کوي او که د مشکلاتو په وخت کې ورته میدان پرېږدي او تښتي.

افغانستان اوس د تاریخ د ډېر حساس پړاو څخه د تېرېدو په حال کې دی هغه دا چې خارجیان له هېواد څخه د وتلو په حال کې دي او له بلې خوا ناامنی هم ورځ په ورځ زیاتېږي، انتخابات هم رانېږدې کېږي ورسره دګاونډیانو مداخلې هم ډېرې بربنډې دي د خارجیانو د وتلو ورځې شماري او د خپلو نامقدسو اهدافو د تحقق لپاره لاس پکار دي.

که له دې نه وروسته افغانستان یو قوي وارث ولري چې د مملکت ګټې او تاوانونه خپل وګڼي د هېواد استقلال، د خلکو څخه دفاع، او هم ملي حاکمیت او ځمکنی بشپړتیا خپل مسؤولیت وګڼي نو دا به یو ښه زیری او ښه خبره وي او که خدای مکړه د خلکو او هېواد په خلاف د هر ډول تعرض او تهدید په وړاندې مقاومت او مقابله ونکړی نو طبیعي خبره ده چې دا مملکت به لاوارثه او مالک به یې معلوم نه وي په داسې یو بدحالت کې به طبعاً ګاونډیان هم د خپلوه موخو په خاطر لاس وهنې کوي او هم به بهرنـي قوتونه د خپل قانون او خپلې خوښې په اساس دلته اوسېږي موازي حکومت، قضایي مصؤنیت، مستقل عدلي او قضایي نظام به لري.

ددولت مسلح مخالفین به داسې یو حکومت په رسمیت نه پیژني د خبرو او تفاهم مقابل طرف بـه یې نه ګڼي. د حکومت د اعضاوو ترمنځ به جلا جلا سیاسي موقفونه وي لکه چې اوس یې شاهد یو د حکومت په اصطلاح اپوزسیون یو څه وایي، وزیر خارجه بل څه وایي، د سولې عالي شورا بل څه او ارګ به بل څه وایي چې ددې ټولو مواقفو او غلطیو تاوان او غرامت به د افغان مظلوم ولس په سروې همداسې به وژل کېږي او مهاجر کېږي، او هم به یې ټول حقه حقوق د غلطو سیاستونو ښکار کېږي.

زما په اند او عقیده باید له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د مملکت سیاسي نظام د مصلحتونو او شخصي منفعتونو پر بنا جوړ نشي د هېواد قوي سیاسي جهتونه د یوې دورې لپاره د مملکت او خلکو د علیا مصالحو په خاطر یو قوي شریک حکومت جوړ کړي چې د هېواد د زمکنی بشپړتیا څخه قوي دفاع وکړي او پدې اثناء کې د ګوندونو د رشد او ترقی لپاره زمینه برابره کړي چې په راتلونکی کې یو قوي ګوند چې په هېواد او خلکو مئین ګوند وي انتخابات وګټي او د حکومت چارې سمبال او د ټولو مداخلو مخه ونیسي او افغانان د یو مستقل آزاد اسلامي او په خپلو پښو ولاړ افغانستان شاهد واوسي او نور دې ۳۵ کلن ناورین ته د پای ټکی کېږدي.

هر سهار د غم سهاره!

...څوتنو ځانمرګو برید کونکو د دهمزنګ په څلورلارې کې دترافیکو پرریاست برید کړی اوجګړه روانه ده نو رد جزئیات یې نه درلودل دخبر په لیدو په کوټه کې ناستوملګرو یو بل ته وکتل او موسکي شول موسکي پردې شول چې ترافیک خو دجنګ خلک نه دي اوپه هرنظام کې یې کارمعلوم وي اولـه هرچاسره یې کارکړی، سهار په خړه لـه کورو راوځـي او دشپې په تیاره کوروته ځي که او بدی لري نو له موټر چلونکو ډریورانو سره به یې لـري اوکه څوک ورته په قهر اوغوسه وي هغه به هم موټرچلونکي وي نو طالب اوالقاعده سره خویې هیڅ بدي نشته اونه یې موږته دطالبانو سره کومه دوسیه معلومه ده اونه پرې کله چاخبره کړې اوبله داچې ټرافیک خو نه دسیاست خلک دي نه دجنګ اوجګړې اونه هم دکومې ځانګړې ډلې ټپلې ملګري پاتې شوي هرچاته یې شپېلک په خوله کې نیولی وي اوپه هرنظام کې یې دکار ساحه معلومه وي، نو ددې ټولوځانګړنو سره سره بیادا خوارن ولې اوپه کوم جرم په نښه شول ټرافیک خو په نوره دنیا کې اوس داسې یوه قوه نده چې نه په شتون به یې نظام فلج شي بلکې په نوره دنیا کې اوس دترافیکو کار ټول کمپیوټري شوې او څوک یې په سترګو هم نه ګوري.

خو زموږ په ملک کې دهرې پیښې نوعیت بدل وي اودابه زما په اند په نړۍ کې لومړی پیښه وي چې د ټرافیکو په یو دفتر داسې قوي ا ووژونکی برید کیږي اوپه دومره تعداد ټرافیک وژل کیږي پدې دردناکه پیښه کې څو تنه خوار ټرافیک ووژل شول اوکورنۍ یې نورې دغم اووېر کورنۍ شوې چې پاتې ژوند به یې دویر اوغم ژوند وي او ماشومان یې نور هغه ماشومان نه وي چې سبقونه ووایي او دراتلونکي لپاره په زړه کې امیدونه ولري دوی نور دهغو ماشومانو په کتارکې شمار شول چې هره شپه به په ژړا ویده کیږي او په ژړا به بیداریږي او د دې ماشومانومور نوره هغه مورنه ده چې په کورکې به یواځې دکور د سمبالښت چارې سمبالوي بلکې دانوره دهغومیندو په کتار کې شمار شوه چې هره ورځ به داولادونو دیوې مړۍ ډوډۍ دپیداکیدو لپاره درپه در ګرځي دهرچا دروازه به ټکوي اودهرچا دمنت ټپسورنه اومحتاجه به وي او هرچاته به دسوال اوګدایي لاسونه اوږدوي او لـه غمـه اودرده ډک سهار اوماښام سره به دخپل ترخه ژوند شپې لنډوي په حقیقت کې داژوند په ژندکي حساب نه دی داژوند دغمونو اودردونو یوداستان دی اوداژوند دناخوالواوبدبختیو یوه کتاب دی دادغمونو اوویرونود تراژیدي کیسو اوداستانونو داسې یوه مجموعه ده چې په لوستو یې دټاګور، شکسپیر ،حجازي اونورو ستروناول لیکونکواوکسه لیکونکو خیال او تصویر د دې کیسو دهیڅ یوې برخې دخوابه نه دي دادترخو کیسو اوبدبختیو داسې یوه نایابه خزانه ده چې په لوستواو اوریدویې انسان غوني زیږۍ اوویښته یې ودروي او یوې بلې دنیا ته وړې هغه دنیا چې له له لسیزوراپدیخوا په اورکې سوځي اوویټېږي خو نه یې په کوردننه حکیم پیداکړ اونه پرې دنړۍ نوروولسونو زړه وردداوه زموږ ولس دهرې نړۍ والې سیالۍ قرباني شوې اودهرې ایډیالوژۍ دتطبیق اوپلي کیدو لپاره وږولس ګڼل شوې اوهرچا یې په خپل وخت اوزمان کې خپله برخه کړې اوتللي، له تیموره تر انګریزه اوله مغوله ترسقاوه اوبیا له پرونې روسه ترننې اشغاله هرچاخپل وس کړی اوخپلې نادودې یې پرموږ تیرې کړې دي خو زموږ زوریدلي ولس دهرې بدبختۍ وروسته دیوسوکاله ژوندانه خوبونه لیدل خو دهرې بدبختۍ وروسته پربله اوترتیرې پرناوړه او دردونکې سرنوشت اخته شوي دلته دیوې غمیزې پای او دبلې پیل وي خو پدې غمونو کې هم ځنې خوشال دي اولـدې ژونده خوند اخلې اودژوند خواږه په همدې بدبختۍ او وژنو کې ګوري اوځانونوته د دې ولس غمخواران هم وایي اوپه همدې ویاړې چې داد شهیدانو کونډواویتیمانو ولس داد سرښندونکو میړنو ولس اوداسې نور القاب چې داښاغلي یې په خپلو بیانیو او وعظونوکې وایي اوپرهمدې شهیدانو سیاست کوي خو هیڅاهم دشهید دبچو پوښتنه ونه کړه اونه یې دهغې دځوانې کونډې احوال واخیسته دشهیدانو بچې په څلور لارو کې دهمدغو ښاغلو د موټرو شیشې پاکوي او سپیلنی ورته لوګي کوي چې له بده نظره بچ، او سرونه یې په امن وي خو داپه پردوامکاناتو مست او مغرورمشران او بیروکراتانو زړونه دکانو دې پرې نه دردېږي داښاغلي دغو معصومو ماشومانو ته کله ګوري په کوم چوک کې چې دوی سپیلني لوګی کوي په هغه چوک داښاغلي یوې پلازې جوړیدو خوبونه ګوري هغه ماشومان چې پلرونه یې دهمدوی دخواهشاتو دپوره کولو قرباني شوي اونن د دوی دموټرو شیشې پاکوي دوی کله پیژني، ددوی بچي خو په اکسفورډ او نورو نړۍ والو پوهنتونو کې پرزده کړو بوخت دي خو د شهیدانو اولادونه لوغړن ګرځي زه خو وایم چې راځئ دشهیدانو په نامه داسیاسي تجارت نور پرېږدی او له هغې ورځې وویریږئ چې اواز به وشي دنن ورځې باچااوواکدار څوک دی اولـه هغې ورځې وویریږئ چې تاسو سره به پکې دزرې زرې حساب کیږي دلته خوبه زموږ په سترګو کې دجهاد او مقاومت خاورې راوشیندئ او دلسګونو بارډیګاردانو په ملتیا او غرو بر کې ځان پټ اوخلاص کړئ خو هلته به د همدې شهیدانولاسونه اوستاسو ګریوانونه وي هغه ورځ چې زموږ دداډ اواطمان ورځ ده دلته خو چا د جهاد او مقاومت په نامه او چا د دیموکرات اوکارپوه په نامه ولوټلو زه نه پوهیږم چې دا کوم سیاست دی اوکومه مسلماني؟ !

اعزامی

عوامل ناامنی از دیدگاه رئیس جمهور

اخیراً حامد کرزی رئیس جمهور اسلامی افغانستان در جریان مصاحبه با شبکه تلویزیونی ان بی سی امریکا، عوامل بی امنیتی را در کشور برشمرد و به پاسخ این سؤال که چه کسی بیشتر از همه مسؤول بی امنیتی در افغانستان است؟ گفت: در مسأله بی امنیتی اگر چه بیشتر از طالبان نام برده می شود، ولی با وجود اینکه عامل برخی از این ناامنی ها طالبان می باشند، ولی بازیگران دیگری نیز در این عرصه وجود دارند که از نام طالبان استفاده می کنند. رئیس جمهور اضافه کرد: القاعده دیگر منحیث یک سازمان در افغانستان حضور ندارد و نگرانی زیاد از آن فعلاً محسوس نیست، ولی بهرصورت بی امنیتی باوجود کاهش در کمیت آن، هنوز وجود دارد. بخشی ازین بی امنیتی ها ناشی از حملات تروریستی طالبان است و بخش دیگر آن ناشی از ساختارهای است که ناتو و امریکا در افغانستان ایجاد کرده اند. شرکت های خصوصی امنیتی، قراردادی های که به قیمت جان مردم افغانستان تمام شده و همچنان نحوهٔ برخورد شرکت ها و قراردادی های متذکره، عوامل دیگر ناامنی در افغانستان اند. در سال های اخیر ذهنیت عامه در افغانستان به گونهٔ عیار شده است که یک بخش بزرگ بی امنیتی در کشور ما ناشی از عملکردهای نیروهای امریکا و برخی از متحدین آن می باشد که در اثر آن فساد، بی قانونی و شرکت های خصوصی خودسر بوجود آمده اند. شرکت های خصوصی امنیتی تابع هیچ قاعده و قانونی نیستند و همچو قاتل و ملیشه عمل کرده اند رئیس جمهور اضافه کرد: فساد زیاد در قراردادی ها و قراردادها موجب ازدیاد ناامنی شده و با گشوده شدن باب رشوه و سوء استفاده از امکانات باعث بی امنیتی شده اند. بعضی ناامنی ها توسط کسانی صورت می گیرد که از جانب جامعه جهانی تربیه شده اند و بنام طالبان دست به حملات بجان مردم بیگناه می زنند و حتی ذهنیت عامه به این باور است که بخشی از ناامنی ها از سوی عساکر ناتو و امریکا بطور عمدی صورت می گیرد.

رئیس جمهور به جواب سؤال دیگری گفت: حضور نیروهای امریکایی و متحدین آن نه تنها نتوانسته است که امنیت را به افغانستان بیاورد، بلکه در مواردی هم باعث وخامت بیشتر اوضاع شده اند. در موارد دیگر هزاران اصله نهال از سوی این نیروها از ریشه کنده شده، باغ ها و مزارع مردم ویران شده اند، خانه های هزاران افغان از دست این نیروها در اثر بمباردها و حملات شبانه ویران و خودشان کشته و زخمی شده اند و عدهٔ هم زندانی و یا آواره گردیده اند.

سطور بالا چکیدهٔ از نقطه نظرات حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان بود که به پاسخ سؤال های خبرنگار تلویزیون (N.B.C) امریکا اظهار داشت. اینکه رئیس جمهور بخشی از ناامنی ها را به نیروهای خارجی در افغانستان منوط دانسته و این حرف های خود را صراحتاً با خبرنگار تلویزیون (N.B.C) امریکا در میان گذاشته است، بیانگر جرئت و شجاعت گویندهٔ آنست، زیرا گفتن چنین حرف ها موجب می شود که اعضای ناتو بالاخص ایالات متحده امریکا به برون کشیدن نیروهای شان از افغانستان سرعت ببخشند و یا لا اقل آنها دیگر حامد کرزی را در رأس هرم قدرت در افغانستان حمایت ننمایند. در گذشته هر گاهیکه شایعات خروج نیروهای خارجی شنیده می شد، حکومت افغانستان را ارایهٔ دلایلی متعدد بر دوام حضور خارجی ها تأکید می کرد و از راه های مختلف بر مقامات غربی فشار می آورد تا مفکورهٔ خروج سریع نیروها را مطرح نکنند، ولی زمانیکه اخیراً مقامات پنتاگون و سایر اعضای ناتو از خروج نیروها حرف می زنند، مقامات افغان از آن استقبال می کنند و حتی حضور نیروها را یکی از عوامل بحران و ناامنی در افغانستان می دانند. بعضی ها استدلال می کنند که شاید موضعگیری اخیر حامد کرزی در مورد نیروهای خارجی که آنها را عامل ناامنی و دوام بحران می داند، ازین مسأله نشات کند که او پس از یک سال و چند ماه دیگر رئیس جمهور افغانستان نخواهد بود. خارج شدن نیروهای خارجی در ماه های اخیر اقتدار از یکطرف او را در ردیف رؤسای جمهور مخالف دخالت خارجی در آورده و گذشته سوال برانگیز او را جبیره می کند و از طرف دیگر با خروج خارجی ها، زمامدار بعد از وی با چالش های امنیتی مواجه شده و مردم با یادآوری از خاطرات دورهٔ نسبتاً آرامتر حامد کرزی، یاد و خاطره او را گرامی می دارند.

همانطوریکه حامد کرزی در جریان مصاحبه اش اظهار داشت که در روابط بین المللی، برای کشورها بیشتر منافع مطرح است تا اعتماد؛ کشورهای غربی هم که تحت نام مبارزه علیه تروریزم و افراطیت نیروهای شان را به افغانستان آوردند، با صرف ملیاردها دالر و قربانی صدها و حتی هزاران سرباز منظور نهایی آنها کمک به مردم افغانستان نیست، بلکه آنها در قدم اول در پی مصؤون سازی کشورهای خود شان اند، اگر حادثهٔ ۱۱ سپتامبر که امریکا و جهان غرب را تکان داد، بوقوع نمی پیوست، شاید نیروهای امریکایی و ناتو به گونه فعلی در افغانستان حضور نمی داشتند، ولی بیم و هراس آنها از گسترش ناامنی در کشورهای خود شان، موجب گردید که عساکر آنها تحت نام کمک به امنیت در افغانستان پیاده شوند که نتیجه اش بقول حامد کرزی جز وخامت بیشتر اوضاع، حاصلی دیگر نداشته و حالا همان نیروها با بدتر شدن اوضاع امنیتی، در صدد خروج از افغانستان اند.

بهرحال حضور دراز مدت نیروهای خارجی در افغانستان، هیچگاهی به نفع مردم و حکومت به سراقتدار در کابل نمی باشد. زیرا:

•حضور خارجی ها در درازمدت سبب تشدید جنگ و دوام بحران در کشور ما می باشد.

•حضور خارجی ها در درازمدت، باعث می شود که کشور ما به یک سرزمین تحت الحمایه مبدل گردد.

• حضور خارجی ها در درازمدت مفاهیم حاکمیت ملی، استقلال سیاسی و تمامیت ارضی افغانستان را زیر سؤال می برد.

• حضور خارجی ها در درازمدت در کشور ما، اسباب ناراحتی همسایگان را باراآورده و آنها هیچگاهی از مداخله در امور داخلی کشور ما دست بر نمی دارند.

•حضور خارجی ها در درازمدت قبل از همه ضامن تأمین منافع خود آنها در افغانستان می باشد.

• حضور خارجی ها در درازمدت افتخارات تاریخی و حماسی افغان های آزاده را در مبارزه علیه استعمار و استبداد خدشه دار می سازد.

پس بیائید که همگام و همصدا با رئیس جمهور برای سربلندی، آزادی و تأمین امنیت در کشور مشترکاً مساعی به خرج بدهیم تا به نعمت استقلال واقعی و خودکفایی برسیم تا دست مان نخست از دراز شدن به سوی اغیار و در ثانی از استماع ضجه و فریاد ملت ستمکشیده افغان، آرام گردد.

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

(به ادامهٔ شماره گذشته)

در جوامع اسلامی مناسبات اجتماعی، تولیدی و توزیع ثروت های مادی و معنوی جامعه دارائی شکل، مضمون و محتویات مخصوص بخود بوده و در تحت نظارت قانون آسمانی به کار خود ادامه میدهد و مراکز اعمال قدرت اساسی را نیز تحت نفوذ خود قرار میدهد. نه اینکه مانند جوامع لیبرال غرب که با استفاده از نام جامعه مدنی و حقوق بشری تلاش شان فقط بخاطر ارضائی غرایز نفسانی و وضع قوانین ضد فطرت بشری میباشد، زمانیکه بشکل طبیعی جامعه مدنی قانونمند گردید. بخاطر تحکیم پایه های قدرت مدنی و تاثیر گذاری آن بالای مراکز قدرت اساسی و جامعه و مراعات حقوق اجتماعی بین نهادهای مختلف حکومت و مردم بر تدوین یک قانون که در آن حقوق و مکلفیت های حکومت، اتباع جامعه و نوعیت نظام ضرورت است، که این قانون را که اساس عدالت اجتماعی را درنظر گرفته و حیثیت وثیقه ملی را در یک جامعه داشته بنام قانون اساسی یاد میکند. که این قانون دارایی نوعیت و ماهیت خاص بخود بوده که بنام نوعیت و ماهیت قانون اساسی یاد میگردد. و یکی از وظایف عمده جامعه مدنی نظارت بر تطبیق قانون از طرف دولت ها و حکومت ها بالای افراد جامعه میباشد و برای شکل گیری و قانونمندی جامعه مدنی نوعیت و ماهیت قانون اساسی امر ضروری بوده تا قوای مدنی بتواند بواسطه قانونیکه نوع نظام را در یک جامعه تحلیل نموده و مطابق آن و بخواست مردم آن جامعه اقدامات سیاسی و اجتماعی خود را بالای دولت و جامعه عملی نماید. علمای علم سیاست و جامعه شناسی سیاسی قانون اساسی را نظر به نوع و ماهیت آن به سه دسته تقسیم نموده اند:

۱- قانون اساسی اعطایی و اقتداری
۲- قانون اساسی نیمه اعطایی و اقتداری
۳- قانون اساسی مردم سالار

۱- قانون اساسی اعطایی و اقتداری: این نوع قانون فقط به اساس تسلط و اقتدار حکومت تدوین، تسوید و تصویب میگردد در آن پروسه مشوره دهی نسبت اشتراک نداشتن مردم صورت نمیگردد. این قانون فقط به نمایندگی از منافع دولت که قانون را به نفع خود میسازد عمل کرده و اشتراک مردم و از طریق آن در تصمیم گیری ها ناممکن است. این قانون به نفع طبقات حاکم بوده که از طریق فشار بالای جامعه تصامیم خویش را تعمیل مینماید. حق و آزادی مردم در همچو قوانین محدود بوده و از کیفیت تطبیقی خوبی برخوردار نیست. نقش جامعه مدنی در همچو رژیم ها که قانون اساسی اعطایی و یا اقتداری دارند، ضعیف و کم رنگ بوده و زمینه فعالیتهای آنها محدود میباشد. حلقات فشار بالای این نوع رژیم و قانون جوانان میباشد که آنها میتوانند در برابر خودکامه گی ها ایستادگی کنند و مراکز اعمال قدرت سیاسی و دولتی را که قانون را به اساس استبداد و قدرت مطلقه شان می سازند و آنرا بالای جامعه تحمیل میکنند وادار سازند تا حکومت ها از تنگنایی اقتدارگرایی و قانون شکنی و عدم رعایت حقوق انسانی برآیند و در روش و ساختار نظام های اقتدار طلبانه خویش تغییرات اساسی را وارد آورند. اشتراک مردم را در پروسه قانون سازی بپذیرند و قانون را در محور چند نفر محدود و بخاطر منافع آنها استعمال نکنند. جامعه را باز بگذارند، برای مردم نقش فعال در پروسه قانون سازی، تعین حق سرنوشت، حق انتخاب نوع رژیم و نظام، حق استعمال رای برای افراد که شایسته رهبری نظام را دارند بدهند. مردم را بگذارند تا در برابر حاکمان شان آزادانه ایستاد شوند، از حق خویش دفاع نمایند. اینجاست که میتوان گفت: نیروی خارق العاده جوانان در میسر ساختن و دگرگونی نظام ها و توجه آنها به اقتدار ملی تاثیر بسزایی داشته و درخور ستایش میباشد.

جوانان نقش جامعه مدنی را در بیداری نظام های اقتدارگرا و تطبیق پروسه های عملی قانون پررنگ تر و برجسته میسازند. ...

(ادامه دارد)

مړه يې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

شهید احمد هجرت

از آرشیف خانه جهاد افغانستان

یکی دیگر از چهره های پاکباز سنگر پرخون حق علیه باطل شهید احمد هجرت (اسلام جار) به اسم اصلی عبدالقدیر فرزند آبرومند و با اخلاص شهید الحاج مولانا عبدالاحد نوهء الحاج محمد عمر خان بود. این ستاره همیشه درخشان میدان نبرد در برج حوت ۱۳۳۰ در قریهء آخند زاده بیماران، ولسوالی سرخرود ننگرهار در آغوش یک خانواده متدین و مبارز پرور، دیدهء به جهان هستی کشود.

وی جهت فراگیری علوم در مکتب ابتدائیه چارباغ صفا شامل شد و بعداً از آنجا فارغ و در لیسهء فقرالله شامل شد در دوران تحصیلات ثانوی خویش نسبت استعداد خداداد که داشت برعلاوهء علوم عصری به فراگیری علوم دینی نیز همت گماشت و در علوم دینی همچو فقه، حدیث، صرف، نحو، میراث، منطق، عقائد، تفاسیر، اصول وغیره مهارت چشمگیری داشت، هنگامیکه در سال ۱۳۵۰ از لیسه فقرالله فارغ التحصیل گردید یکسلسله مشکلات فامیلی مانع ادامه تحصیل شهید هجرت گردیده نگذاشت تا تحصیلات خویش را ادامه دهد، بدین ملحوظ در پوهنتون ننگرهار بحیث مامور و آمر ترانسپورت آنجا ایفای وظیفه نمود که در جریان اجرای امور به روشنگری اذهان عامه آغاز کرد و با ابتکارات خود در سیرآبی مردم تشنه بدانش کشور سهم بسزا گرفت. بالاخره در سال ۱۳۵٤ به خدمت عسکری سوق گردید که از قطعهء ۲۱٦ سروبی در رشته دافع هوا ترخیص خود را بدست آورد.

شهید احمد هجرت درسال ۱۳٤۹ شامل حلقهء تحریک اسلامی شد هنگامیکه شهید عبدالرحیم نیازی و شهید انجنیر سیف الدین نصرتیار به پوهنحی طب ننگرهار تشریف آوردند. شهید هجرت با شهید انجنیر سیف الدین نصرتیار ملاقات تعارفی حاصل نمود، بگفته خودش تماس روزمره اش با داکتر شمس الحق شهید و داکتر عبدالشکور شهید بوده است.

هنگامیکه گماشتگان کرملین با کودتای خونین براریکه قدرت تکیه زدند قبله گاه شهید احمد هجرت زندانی شد چون شرایط و زمان برای مبارزه علنی مساعد نبود بناءً به تاسی از سنت پیامبر صلی الله علیه وسلم بتاریخ ۲۷ / ۷ / ۱۳۵۷ با فامیل خود مهاجر شد و بعد از مدتی با اساس فیصلهء شورای ولایتی ننگرهار بخاطر پیشبرد امورتنظیمی و لایت موظف گردید و مدتی در آن مقام ایفای وظیفه کرد، بعداً هم طبق لزوم دید برادران و مقامات حساس تحریک اسلامی به حیث قوماندان جبههء مهمند دره ننگرهار به میدان نبرد شتافت و طی یکسال با جانثاری های خود توانست ولسوالی کامه، گوشته، علاقداری لعل پور، کمیتهء گریک وغیره را تار و مار کند و لوای توحید را در آن مناطق به اهتزاز در آورد. سپس جهت اجرای امور ارتباطی بمرکز بازگشت و به اساس ملحوظاتی، منطقه مذبور را ترک گفته و به ولسوالی سروبی شتافت ازین منطقه عملیات های درهم شکنده و کوبندهٔ را تا ولسوالی سرخرود و خوگیانی گسترش داد که قرار معلوم عملیات آزادی بخش و اسلامی درین مناطق به پیروزیها و موفقیت های مجاهدین انجامید و بالاخره وقتی که در ولسوالی خوگیانی قوای متجاوز روسی، تمرکز یافت این مبارز سلحشور پاک طینت به مقاومت پرداخت تا دشمن را عقب براند، تصادمات شدیدی بین دشمنان دین و سپاهیان راه الله درگرفت و شهید پاکباز در حالیکه از طریق لودسپیکر نیروی ضد تانک را هشدار و دستور پیشروی میداد در نیمهٔ شب ۲٤ / ۹ / ۱۳۵۹ ناگهان خمپارهء داغی از خمپارهء الوانداز مدرن دشمن به قسمت پایین تنش اصابت میکند و این شخصیت انقلابی و وفادار بخدا در پاسخ داعی اجل را لبیک گفته و روح پاکش بسوی علیین پرواز نموده و برحمت ایزدی پیوست و جام شهادت را که خواسته وی بود به سر کشید. (انا لله و انا الیه راجعون)

فارن پالیسي:

القاعده اوس په لویه اندازه په افغانستان کې نشته

فارن پالیسي خپرونې د افغانستان په اړه په خپله وروستۍ ګڼه کې لیکلي: لکه څرنګه چې ولسمشر بارک اوباما د ۲۰۰۹ کال په لومړۍ نیمه کله چې یې افغانستان ته د اضافي ځواکونو استول اعلانول، ویلي وو دا ویل، چې القاعده شبکه به بیا سرنه پورته کوي دې پورې تړلې، چې افغانستان باثباته او له خان څخه د دفاع جوګه وي.
د جمهور رئیس اوباما په وینا القاعده شبکه اوس په لویه اندازه په افغانستان کې نشته او ښایي په دغې هېواد کې د دې شبکې د وسله والو شمېر له زر تنو کم وي.
د فارن پالیسي په وینا د امریکا د دفاع وزیر لیون پنیتا بیا د تېر میلادي کال په نومبر میاشت کې وویل: استخباراتي معلومات ښیي چې د القاعده غړي هڅه کوي افغانستان ته د بیرته تګ توانمندي پیدا کړي.
خپرونه وړاندې لیکي، که چیرته د ملاتړي ځواک څخه هدف په افغانستان کې د تروریزم ضد مبارزې او روزنې لپاره د څو زره سرتیرو پاتې کول وي، نو د مقالې د لیکونکي په وینا له ۲۰۱۴ کال وروسته پر ملاتړي ځواک د اوسني جنګي ماموریت د بدلولو اعلان د ځواکونو د ویستلو لپاره یو پلمه کېدای شي.
فارن پالیسي زیاتوي: د اسامه بن لادن وژنه یوه مهمه کامیابي وه، خو دا پېښه د دې شبکې په فعالیتونو کې یوازې یو خنډ وو.
القاعده له منځه نه ده تللې بلکه اوس هم د امریکا او لویدیځ پر اهدافو د حملو لپاره ژمنه ده.
القاعده شبکه او ملاتړي ډلې یې اوس هم په پاکستان، یمن او سومالیه کې فعالې دي او د مالي، موریتانیا، الجزایر، لیبیا او بورکینافاسو هېوادونو په شمول د افریقا په شمال کې فعالیت لري.
د فارن پالیسي په وینا که ناټو او امریکا اوس کار ونه کړي نو دا مبارزه به راتلونکې نسل ته پاتې شي.
د مطلب لیکونکی وایي، کوم کسان چې اوس په افغانستان کې جنګېږي هغه مهال چې دا جګړه پیل شوه، نو دوي پینځه یا شپږ کلن وو نو مونږ د اوسني نسل د دغه عمر لرونکو ماشومانو ته داسې راتلونکی نه غواړو.

مولانا فضل الله رهبر طالبان پاکستان در حملهٔ طیارات بدون پیلوت در نورستان کشته شد

اسلام آباد:
یک روزنامه پاکستانی مدعی شد که «مولانا فضل الله» از رهبران ارشد «تحریک طالبان پاکستان» در حمله روز گذشته طیارات بدون پیلوت امریکایی در افغانستان کشته شده است.
به گزارش روزنامه «خبرین» چاپ اسلام آباد، مولانا فضل الله قوماندان سابق طالبان پاکستان در ولایت نورستان و یکی از رهبران ارشد این گروه بر اثر حمله بعد از ظهر روز گذشته طیارات بدون پیلوت امریکایی در افغانستان کشته شد.
به نوشته این روزنامه، طیارات بدون پیلوت امریکایی روز گذشته ساعت پنج بعدازظهر مخفی گاه شورشیان در منطقه «سرامنگ» در مربوطات ولایت «نورستان» را هدف قرار دادند که بر اثر آن وی به همراه هشت نفر از همراهانش کشته شد.
گزارش ها از احتمال افزایش تلفات این حمله حکایت داد.
همچنین گفته می‌شود که یک موتر پیک دو سیته نیز هدف حمله طیارات بدون پیلوت امریکایی قرار گرفت که بر اثر آن دو قوماندان محلی طالبان جان باختند.

کرزی هیاتی را مامور ...
و سوء استفاده جنسی در زندان ها و بازداشتگاه را بررسی کند.
آقای کرزی، عبدالقادر عدالتخواه، معاون کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی، را در راس این هیات قرار داده است.
بررسی و حقیقت یابی، شامل زندان های مربوط به وزارت داخله کشور و بازداشتگاه های مربوط به ریاست عمومی امنیت ملی خواهد شد.
در صورت صحت اتهامات وارده، این هیات موظف است که عاملان آن را مشخص کند و تا دو هفته آینده، یافته های خود را به رئیس جمهور گزارش دهد.
موضوع مسئولیت زندان‌ها از موضوعات تنش‌زا میان کابل و واشنگتن بوده است.
حامد کرزی رئیس جمهوری افغانستان تاکید دارد که نگهداری زندانیان مساله مربوط به حاکمیت افغانستان است و از ایالات متحده خواسته تا همه زندانیان افغان را به دولت این کشور بسپارد.

د حیرتانو د بندر له عوایدو نه ...
کې جمعیت، حزب وحدت او جنبش ګوندونو هلته واکمني درلوده.
د لوېې څارنوالۍ مرستیال رحمت الله نظري د سې شنبې په ورځ آزادي راډیو ته وویل چې ترڅېړنو وروسته به دا معلومه شي چې دا پیسې څومره وې او چاه ورڅخه شخصي او یاهم تنظیمي ګټه پورته کړې:
"په هغه وخت کې د حیرتان د بندر عواید د هغو درېو ګوندونو ترمنځ ویشل شوي چې هلته واکمن وو.
هغه مهال هلته حزب وحدت، جمعیت او جنبش ګوندونه واکمن وو.
دا دوسیه برابره شوې او کابو یوه نیمه میاشت کېږي چې د څارنوالۍ لخوا د اداري فساد پرضد د مبارزې ادارې ته استول شوې."
که څه هم ښاغلي نظري په دې اړه په ډېر احتیاط له آزادي راډیو سره خبرې وکړې خو ځینو رسنیو راپور ورکړی چې د حزب وحدت مشر او د ولسي جرګې غړی حاجي محمد محقق، د جمعیت ګوند غړی او د بلخ والي عطا محمد نور او د جنبش ګوند مشر جنرال دوستم دا عواید ترلاسه کړيدي.
ویل شوي چې د حیرتانو بندر عواید هره میاشت ملیونونو ډالرو ته رسیږي او په ۱۳۸۱ او ۱۳۸۲ لمریز کلونو کې د دې بندر لسګونه ملیونه ډالر عواید یا شخصي جیبونو ته تللي او یاهم د قانون خلاف ورڅخه ګوندي ګټه پورته شویده.
د حاجي محمد محقق په مشرۍ حزب وحدت په یوه خپره کړې اعلامیه کې دا راپورونه یو مخ رد کړي او ویلي یې دي چې دا د ښاغلي محقق او جنرال عطا د رنګ بده کولو لپاره د ځینو حکومتي چارواکو هڅې دي.
د حزب وحدت په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې ښایي د عوایدو له مرکزي کېدو مخکې د حیرتانو بندر له عوایدو څخه د ځینو پوځي قطعاتو په ګټه استفاده شوې وي خو وایي چې دا مساله جنرال دوستم، حاجي محمد محقق او جنرال عطا محمد نور پورې اړه نلري.
د لوېې څارنوالۍ مرستیال رحمت الله نظري وایي چې له اداري فساد سره د مبارزې د ادارې له څېړنو وروسته به معلومه شي چې د حیرتانو بندر څومره عواید چاه ترلاسه کړي دي.
ښاغلي نظري ژمنه کوي چې په دې دوسیې کې ښکیل کسان به هرو مرو د قانون منلګو ته وسپارل شي:
"د پیسو اندازه به په دوسیه کې معلومه وي له دې امله چې دا د اداري فساد دوسیې دی باید ښې مستندې شي کله چې اشخاص پکې معلوم شول بیا به یې دوی مونږ ته د تحقیق لپاره را ولیږي.
که په دې دوسیې کې هرڅوک شامل وي مونږ به یې انشا الله نیسو ولی به یې نه نیسو."
مونږ ډیره هڅه وکړه چې په دې اړه له اداري فساد سره د مبارزې له ادارې سره هم خبرې وکړو خو له ډیرو هڅو سره سره د دې اداري چارواکي خبرو ته حاضر نشول.
تردې وړاندې هم کله نا کله د ځینو ادارو لخوا پر ځینو دولتي چارواکو په ورته تو‌ګه تورونه لګول شوي خو خلک انتقاد کوي چې دا ډول دوسیې د ځینو لوړ پوړو دولتي چارواکو د مداخلو او نورو اړیکو له امله لکه څنګه چې لازمه ده پرمخ نه دي وړل شوي.

کرزي ۲۰ نورو کسانو ته ...
شمیر نور یې بیا له وړاندې په همدې محبس کې بندیان ول.
د سرچینې په خبره د تیرې چهارشنبې په ورځ ستري محکمې یادو شلو تنو ته د اعدام وروستي فیصله صادره کړه او بیا ولسمشر ته د وروستي تایید لپاره واستول شوه چې ولسمشر له خپلو دیني او حقوقي سلاکارانو سره تر مشورې وروسته هغه تایید کړه.
د ارګ یوې سرچینې هم د دغه خبر پخلی وکړ.
دغې سرچینې د موضوع د حساسیت له کبله خپل نوم پټ وساته او وېې ویل چې د عدلیې وزارت او کورنیو چارووزارتونو ته د دې فیصلې کاپي استول شوې او ډېر ژر به دا شل کسان اعدام شي.
د هغوی د اعدام نېټه نه ده ټاکل شوې. دا پریکړه به د عدلیې او کورنیو چارو وزارتونه کوي.
اعدام ته محاکم کسان د پروان، هلمند، بغلان، کابل او پنجشیر ولایتونو استوګن ښودل شوي چې ډیری یې د کابل د پغمان، موسهې او سروبي ولایت اوسیدونکي دي.
دا په تېرو دوو میاشتو کې د اعدام دوهمه فیصله ده چې د ولسمشر له لوري منظور کیږي.
تر دې دمخه هم یو شمیر کسان چې په سړي وژنه، جنسي تیریو، مسلحانه غلاوو، تروریستي حملو او نورو سختو جرمونومجرم پیژندل شوي ول د څرخي پله په زندان کې اعدام شوي ول.
د ولسمشر کرزي دغه کار د بشري حقونو د مدافع ټولنو سخته غوسه وپاروله.
دغو سازمانونو پر افغان حکومت نیوکه وکړه چې ولي یې اعدامونه په داسې حال کې چې پراخ اداري فساد په افغان اداره کې حاکم دی تر سره کړي دي.
هغوی ویره لري چې په ددې برخه کې به رشوت خوری او مالي فساد د ډیرو قضایاوو لوری بدل کړی وي.

بریتانیا برای حفظ و مراقبت سرک...
کابل گفت که آن کشور متعهد گردیده است که ۴.۳ میلیون پوند معادل حدود شش میلیون دالر را برای اجرای برنامه های وزارت فواید عامه به خصوص در قسمت حفظ و مراقبت سرک ها و شاهراه ها کمک کند.
"امروز که ما در یک بخش اساس دیگری قدم می گذاریم، بریتانیا کمک های زیادی را در این بخش در نظر دارد که آغاز آن از ۴.۳ میلیون پوند معادل حدود شش میلیون دالر است. تفاهم نامه آنرا به امضا می رسانیم و این پول از طریق اداره UNOPS به دسترس این وزارت قرار می گیرد تا ما این پول را در بخش حفظ و مراقبت سرک های افغانستان و ارتقاع ظرفیت به کار بگیریم."
این تفاهمنامه را با وزارت فواید عامه، نماینده گان اداره انکشاف بین المللی بریتانیا و دفتر یو ان او پی اس به امضا رساندند.
وزیر فواید عامه افغانستان می گوید که یکی از علت های عمده تخریب سرک های این کشور، عبور و مرور وسایط تناژ بلند بالای این سرک ها است.
وی تاکید کرد که تلاش می کنند تا از مساعدت جدید بریتانیا در راستای حفظ و مراقبت سرک ها و شاهراه های این کشور استفاده موثر صورت گیرد.
در همین حال نماینده اداره انکشاف بین المللی بریتانیا، حفظ و مراقبت سرک ها را در افغانستان در رشد و تقویت اقتصاد این کشور مهم خواند.
آقای مارک مالوله گفت، این کمک بریتانیا بخش از مساعدت های آن کشور به افغانستان است. به گفته وی بریتانیا در کنفرانس توکیو تعهد کرده است که سالانه ۱۷۸ میلیون پوند به افغانستان کمک می کند.
"با پروسه انتقال که حالا در جریان است، مقدار کمک های خارجی هم به افغانستان کاهش خواهد یافت، پس به همین خاطر می گویم که این بسیار مهم است تا افغانستان دارای شبکه سرک های خوب باشد واین یکی از فکتور های خوبی است در زمینه رشد اقتصاد این کشور در سال های آینده."
در حالی انتظار می رود که کمک تازه مالی در اختیار وزارت فواید عامه افغانستان به خاطر حفظ و مراقبت سرک ها و شاهراه های این کشور قرار داده شود که در سال های اخیر هم از اجرای برنامه ها و تلاش های در این مورد سخن زده شده است.
اما انتقاد های موجود اند که از کمک های جامعه جهانی به افغانستان در این کشور استفاده بهتر صورت نمی گیرد و نحوه نظارت از حفظ و نگهداری سرک ها هم ضعیف خوانده می شود.

علمای افغان و مصر در کابل ...
در این سیمینار که برای سه روز در کابل راه اندازی شده است در آن برخی از علمای دینی از افغانستان و مصر اشتراک دارند.
حسن بانو غضنفر وزیر امور زنان افغانستان به روز سه شنبه در آغاز این سیمینار گفت که عدم در نظر گرفتن ارزش های اسلامی، سطح پایین سواد و مشکلات اقتصادی از علت های اصلی خشونت در برابر زنان در این کشور به حساب می آید.
قرار است اشتراک کننده گان این سیمینار در جریان سه روز در مورد حقوق زنان از نظر اسلام به بحث های گسترده بپردازند.
این برنامه از سوی وزارت های امور زنان و حج و اوقاف به همکاری بنیاد آسیا یا آشیا فوندیشن بر گزار شده است.
یک استاد پوهنتون الازهر مصر به نام عفاف السید زیدان که برای شرکت در این سیمینار به کابل آمده است گفت، این مهم است که به هدف کاهش خشونت در مقابل زنان در افغانستان به مردم در این کشور در مورد حقوق زنان از نگاه اسلام آگاهی داده شود.
وی می گوید که انجام حرکات خشونت آمیز با زنان در افغانستان ناشی از آگاهی نداشتن مردم از حقوق زنان است.
به گفته بر گزار کننده گان این سیمینار، علمای دینی افغان و مصری به طور مشخص در رابطه به حق مهر و نفقه، حق ازدواج، حجاب، خشونت های خانواده گی علیه زنان، سن ازدواج دختران، حق میراث و برخی موارد دیگر وابسته به حقوق زنان بحث و تبادل نظر خواهند کرد.
برنامه های مشابه در گذشته هم به هدف کاهش خشونت در برابر زنان در افغانستان راه اندازی شده است. اما گفته می شود که این برنامه ها موثریت نداشته اند.

په کامې ولسوالۍ کې د ...
په یاده غونډه کې دحزب اسلامي داجرایه شورای غړي سیاسي اوجهادي شخصیت مولوي عطاء الله لودین ترڅنګ دننګرهار ولایت دکامې ولسوالۍ دحزب اسلامي ګڼو مشرانو، علماو، جهادي قوماندانانو اوقومي مخورو برخه اخیستې وه، دورکشاپ په وروستي برخه کې محترم مولوي عطاء الله لودین په روانو سیاسي حالاتو او په هغه کې دحزب اسلامي پر دریځ اوموقف دغونډې ګډونوالو ته ارزښتناکه وینا وکړه، مولانا لودین په کامه کې دحزب اسلامي د ورونو ترمنځ پرښه انسجام اوهماهنګۍ ټینګار وکړ او هغوی یې په روانو سیاسي حالاتو کې خپلو تنظیمي فعالیتونو ته متوجه کړل او د دا ډول ورکشاپونو جوړول یې یو ګټور ګام وباله. یاد ورکشاپ دوه برخې درلودې چې لومړی برخه یې له غرمې مخکې پای ته ورسیده او وروستی برخه یې له غرمې وروسته تر مازدیګره دوام وکړه ورکشاپ دکامې ولسوالۍ دقومي مشر الحاج خان زمان په دیره کې جوړ شوی و چې د خدمت ټولې چارې یې هم دنوموړي مشر پر غاړه وې، ورکشاپ ما زدیګر پرځلورو بجو دکامې دناظم مولوي عبدالقدیم پر دعائیه پای ته ورسیده.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"
د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسوول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه، کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com